# ملګرو !

ترڅوچی بیرته یولښکرنه شو
بیرته راټول په یوسنګرنه شو

ترڅوچی یود بل ملا ونه تړو
یولکه توره بل سيېرنه شو

ترڅوچی داځانځاني ختمه نکړو
بیرته یوکوراویوټبرنه شو

ترڅود تېروخت ګېلې هېرې نکړو
که د پرون نه رابهرنه شو

که لاپه خوب داسی ویده پاتی شو
لړشور ونه خورو، راببرنه شو

که د منزل په لورکاروان جوړنکړو
ټول په یوه لاره برابرنه شو

**که ګران وطن اود وطن خلکوته**

**بیرته د ښه خدمت مصدرنه شو**

**که د خلاصون په نیت (قیام) ونکړو**

**په استبداد به هیڅوخت برنه شو**

**الحاج الهام الدین قیام**

07/11/15